PASHTO

DISCOVER NORTH EAST LINCOLNSHIRE

NORTH EAST LINCOLNSHIRE COUNCIL
www.nelincs.gov.uk



# ستاسو د استوګنې لاربښود

پیاوړی اقتصاد: پیاوړې ټولنې. **په ګډه کولای شو چې لا پیاوړي شو.**

# ستاسې د استوګنې لاربښود

څنګه کولی شم یو ځای په کرایه ونیسم؟ ...................................................................

چېرې کرایه کولی شم؟.....................................................................................

مالي.......................................................................................................

یو ځای مو خوښ شو؟ راتلونکي ګامونه.........................................................

کوم بیلونه به باید ورکړم؟.............................................................................

ستاسې د نوي کور فرنیچر.............................................................................

کثافات، بیاکارول او لوی توکي.......................................................................

د کور ساتنې لپاره غوره لاربښوونې ...................................................................



# څنګه کولی شم یو ځای په کرایه ونیسم؟

**که تاسو غواړئ په کرایه یو ځای پیدا کړئ، په سیمه کې ګڼ شمیر د کرایې اداري او شخصي مستاجران شته.**

تاسو کولای شئ دا په انټرنېټ کې د لټون کولو، د ښار د مرکزي سیمو په شاوخوا ګرځېدو، په دوکانونو کې چې د کوټې یا ملکیتونو اعلانات کوي، په محلي ورځپاڼو کې د پلټنې یا له خپلو ملګرو او کورنۍ څخه د پوښتنې له لارې ومومئ، چې آیا د هغوی مالک کوم ملکیت د اجارې لپاره لري یا که دوی څوک پېژني چې ملکیت موجود لري.

په فېسبوک کې هم د ځینو سیمو په اړه د کورونو کرایه کولو لپاره ګروپونه شته.

- په سیمه کې د کرایې ادارو لیست وګورئ.
- ویبپاڼې ولټوئ: ملي ویبپاڼې لکه:

**www.rightmove.com**

**www.zoopla.co.uk**

**www.onthemarket.com**

---

# چیرې کرایه کولی شم؟


**په شمال ختیځ لینکن شایر (North East Lincolnshire) کې ډېرې مختلفې سیمې شته. که تاسو غواړئ په ښار کې یا د کلیوالو سیمو سره نږدې واوسئ، که تاسو ته د کارموندنې فرصتونو ته نږدې اوسېدل اړین وي، که عامه ټرانسپورټ ته نږدې اوسېدل درته مهم وي، او که کورنۍ لرئ چې د بېلګې په توګه ماشومان یې ښوونځي ته ځي، نو تاسو باید په پام کې ونیسئ چې آیا یو ملکیت د بودیجې له مخې مناسب دی که نه. که تاسو غواړئ بلې سیمه ته کډه وکړئ، موږ نه شو کولای په نورو ښارونو کې تاسو ته ملکیتونه پیدا کړو، خو د بودیجې د وړتیا او سیمهایزو اړیکو د پالیسیو په اړه عمومي مشورې درکولی شو.**

په شمال ختیځ لینکن شایر کې 14 "حوزې" یا سیمې شته چې دا سیمه جوړوي. د کرایې د منځنۍ کچې له مخې د دوو کوټو ملکیتونو لپاره حوزې له لوړې کرایې څخه تر ټیټې پورې په لاندې ډول دي. تر ټولو ګرانبیه سیمه د وولډز (Wolds) ده، او تر ټولو ارزانه یې د ختیځ مارش (East Marsh) سیمه ده.
که تاسو د شمال ختیځ لینکن شایر د یوې سیمې په اړه نور معلومات غواړئ، زموږ د ویب پاڼې [www.nelincs.gov.uk](www.nelincs.gov.uk)په کارولو کولی شئ "حوزې" ولټوئ.

په هغو سیمو کې د ژوند چاپېریال، اسانتیاوو، د انټرنیټ سرعت، د جرم احصایې، ښوونځیو په اړه لا زیات معلومات په دغې ویب پاڼه کې موندلی شئ: [www.open.xploria.co.uk](www.open.xploria.co.uk) :



## حوزې د کراپې د لګښت له مخې؛ له لوړې څخه تر ټيټې پورې




1. Wolds
2. Humberston and New Waltham
3. Waltham
4. Scartho
5. Haverstoe
6. Croft Baker
7. Yarborough
8. Heneage
9. Sidney Sussex
10. Freshney
11. Immingham
12. Park
13. South
14. West Marsh
15. East Marsh

100020759 د جواز نمبر 2022 ©Crown Copyright

# د کور شریکول/HMO

**که تاسو یو واحد کس یاست، د کور شریکول، چې اکثره وخت ورته HMOs (هغه کورونه چې په کې څو کسان اوسیږي) ویل کیږي، یوه ښه لاره ده چې پیسې سپما کړئ او نوي ملګري ومومئ. که تاسو کار نه لرئ، دا عموماً تر ټولو ارزانه انتخاب وي چې تر هغه وخت پورې چې تاسو کار پیل کړئ او وکولای شئ په خپل ځان پورې د تړلي ملکیت لګښتونه پوره کړئ. HMOs ممکن جوړې هم ومني. په دې کې کیدای شي ستاسو ټول د خدماتو بېلونه لکه اوبه، بریښنا او ګاز په کرایه کې شامل وي، خو ډاډ ترلاسه کړئ چې له استازي یا مالک څخه تأیید واخلئ چې کوم بطلونه شاملې دي او کوم نه دي.**

ټول مستاجران به په ګډه مسول وي چې ګډې سیمې پاکې او منظمې وساتي او د یو بل د خصوصی‌والي اړتیا ته درناوی وکړي. مهمه ده چې تاسو او ستاسو مېلمانه باید د نورو کسانو لپاره کوم تکلیف یا ډېر غږ او شور نه جوړ کړئ.

تاسو باید خپل د ژوند سبک او د ژوند کولو عادتونه په پام کې ونیسئ او دا چې آیا له نورو سره اوسېدل ستاسو لپاره او د هغو کسانو لپاره مناسب دي چې تاسو غواړئ ورسره ژوند وکړئ که نه.

په هغه ځای کې د کور په شریکولو پسې ګرځېدل چې ستاسو د اسېدو له سیمې سره توپیر لرئ او نه پوهېږئ چې کومې سیمې ښې دي، کېدای شي ستونزمن وي. که تاسو غواړئ پوه شئ، مهرباني وکړئ وګورئ چې ستاسو د ملاتړ کارکوونکی، د استوګنې افسر یا کوم ملګری یا د کورنۍ غړی له هغه ځای سره بلد دی چې تاسو ورته لېواله یئ که نه، ځکه دوی شاید تاسو ته مشوره درکړي.

تاسو باید په سیمه کې د کرایې له ادارو سره اړیکه ونیسئ او د خپلې بودیجې په حدودو کې د کور شریکولو په اړه وپوښتئ. دا هم ګټور وي چې په [www.spareroom.co.uk](http://www.spareroom.co.uk)کې یو پروفایل جوړ کړئ او په [www.gumtree.com](http://www.gumtree.com)کې لټون وکړئ.

هڅه وکړئ په یوه ورځ کې څو لیدنې تنظیم کړئ او پوښتنه وکړئ چې آیا دا ممکنه ده چې له اوسنیو مستاجرانو څخه کوم یو وګورئ تر څو تاسو د هغه ډول کور په اړه ښه احساس ترلاسه کړئ چې ښایي ژوند پکې وکړئ.



# مالي

## څومره بیعانه اړینه ده؟

- تاسو به یوې بیعانه ته اړتیا لرئ، چې دا ممکن تر 5 اونیو کرایې پورې مخکې ورکړئ او عموماً یو تضمین ورکوونکی باید وي چې کرایه وکړای شئ. په شریکه استوګنه کې دا کله کله لږ وي. دا پیسې ممکن ستاسو خپلې سپما شوې وي یا مو له کوم ملګري یا کورنۍ څخه پور اخیستې وي.

- که تاسو له خپلې دندې عاید نه لرئ، تاسو به په انګلستان کې یو د کور مالک یا یو د انګلستان اوسیدونکی چې دنده ولري د تضمین ورکوونکي په توګه ونیسئ. تضمین ورکوونکی باید لږترلږه داسې معاش ولري چې که تاسو خپله کرایه ورنه کړئ یا ملکیت ته کوم زیان ورسوئ، وکولی شي ستاسو او خپل کور لګښتونه پوره کړي.

- په ځینو مواردو کې، د شمال ختیځ لینکن شایر شورا ممکن د کور انتخابونو ټیم یا د کډوالو د ادغام خدمتونو له لارې مالي مرسته وړاندې کړي. تاسو د خپل ملاتړ کارکوونکي یا د استوګنې افسر سره په دې اړه خبرې وکړئ ځکه چې دا ټولو ته نه تطبیقیږي.

- ځینې د کرایې ادارې به ستاسو د تضمین ورکوونکي پر ځای ستاسو د معاش تایید کوونکې مرجع ومني. سپارښتنه کیږي چې دا مخکې له دې چې د املاکو لیدنې وکړئ، تایید کړئ تر څو د نا امېدۍ مخه ونیسئ. ویوښتئ که د چا لخوا تضمین ورکوونکی موجود وي، آیا بیا هم بیعانې ته اړتیا لري که نه.

- ستاسو بیعانه هره نا ورکړل شوې کرایه یا د قرارداد په پای کې د ناځایې زیانونو لکه د ملکیت زیانونو پوښښ کوي. ستاسو مالک یا استازی باید ستاسو بیعانه په حکومتي ملاتړ لرونکي د کرایې بیعانې پروګرام کې د 30 ورځو په موده کې ثبت کړي، او تاسو باید یو د تایید ایمیل ترلاسه کړئ چې چیرته ثبت شوې او څنګه حساب جوړ کړئ. دا پروګرام ډاډ ورکوي چې که د کرایې د تړون شرایط پوره کړئ، تاسو به خپلې پیسې د قرارداد په پای کې بیرته ترلاسه کوئ. ویبپاڼه: www.gov.uk/tenancy-deposit-protection

- د اجارې ورکولو یا کرایې اداره به ستاسو عاید ته اړتیا ولري ترڅو وګوري چې تاسو کوم ملکیتونه په مالي توګه لرلی شئ. تاسو به اړتیا ولرئ چې خپله ټولیزه تنخوا او/یا یونیورسل کریډیټ (Universal Credit) محاسبه کړئ، لکه د هر ډول استوګنې عنصر چې ترلاسه کوئ یا ستاسو وړتیا یا پر شرایطو برابروالی تایید شوی وي.

- د اداري شهرت په پام کې ونیسئ – د انټرنیټ بیاکتنې وګورئ یا له ملګرو او کورنۍ څخه مشوره ترلاسه کړئ.

- د هغو غوښتنو په اړه محتاط اوسئ چې له تاسو څخه د ملکیت د لیدو لپاره د ساتنې بیعانه یا ډیپوزیټ ورکول غواړي. دا معیاري عمل نه دی، او که تاسو د غوښتنلیک د پرمخ وړلو پریکړه ونه کړئ، نو پیسې بېرته نه ورکول کیږي.

## زه د کرایې لپاره کومه مالي مرسته ترلاسه کولی شم؟

که تاسو په یونیورسل کریډیټ یا د تقاعد کریډیټ **(Pension Credit)** کې یاست، ممکن تاسو ته د کور کرایې په برخه کې مرسته ورکړل شي**.**

د ارزونې دفتر اداره د محلي استوګنې مرستې (LHA) نرخونه ټاکي چې د شخصي کور مالکانو لخوا د کرایه کوونکو لپاره د استوګنې ګټې محاسبه کولو لپاره کارول کیږي. دا نرخونه د سیمې په شخصي مارکیټ کرایو پورې اړه لري، چیرته چې په معقول ډول تمه کېدای شي یو شخص ژوند وکړي.
که تاسو مرستې ته اړتیا لرئ چې غوښتنلیک ورکړئ، مهرباني وکړئ له خپل ملاتړي کارکوونکي یا د استوګنې افسر سره خبرې وکړئ.
د دې د **معلومولو** لپاره چې د څومره مرستې وړ یاست، په **حکومتي ویب پاڼه** کې د خپل پوستي کوډ یا سیمه ییزې ادارې په کارولو سره د محلي استوګنې مرستې نرخونه ولټوئ: https://lha-direct.voa.gov.uk

په دې ویبپاڼه کې **د LHA د کوټې شمېر محاسبه کوونکی** وکاروئ تر څو محاسبه کړئ چې ستاسو د کورنۍ د اندازې له مخې څومره کوټې درته مناسبې دي.

تاسو کولی شئ د محلي اداري له لارې هم لټون وکړئ – موږ "د شمال ختیځ لینکن شایر شورا" یو – تر څو هغه نرخونه ومومئ چې د مختلفو اندازو ملکیتونو لپاره تاسو ورته مستحق یئ. په یاد ولرئ چې نرخونه د انګلستان په هره سیمه کې توپیر لري. خپل مستحقیت دلته محاسبه کړئ: https://www.entitledto.co.uk

د شمال ختیځ لینکن شایر شورا لپاره د LHA اونیز نرخونه اوس مهال په لاندې ډول دي: (د 2024 تر اپریل پورې).

£77.00 په اونۍ کې / £316.00 په میاشت کې – د شریکي استوګنې نرخ (دا تر 35 کلنۍ لاندې کسانو لپاره هم تطبیقیږي).

£90.90 په اونۍ کې / £393.90 په میاشت کې – د یوې کوټې نرخ.

£110.47 په اونۍ کې / £478.00 په میاشت کې – د دوو کوټو نرخ.

£120.00 په اونۍ کې / £520.00 په میاشت کې – د درېیو کوټو نرخ.

£165.70 په اونۍ کې / £718.00 په میاشت کې – د څلورو کوټو نرخ.

## یو ځای مو خوښ شو؟ راتلونکې ګامونه

موږ یو شمېر ګټورې مشورې یوځای کړې دي چې هغه څه په ګوته کوي چې کله یو ملکیت پیدا کړئ، باید په پام کې یې ونیسئ.


**د ملکیت د لیدلو لاربښوونې یا مشورې**


مخکې له دې چې ورشئ:

***د انرژۍ د فعالیت سند***

وګورئ چې آیا ملکیت مخکې د انرژۍ فعالیت سند (EPC) لري – دا به تاسو ته ووایي چې د ملکیت چلولو لپاره څومره لګښت راځي. ملکیتونه له A (تر ټولو اغیزناک) څخه تر G (تر ټولو نا اغیزناک) پورې درجه بندي کیږي. ملکیتونه هم یو امتیاز ترلاسه کوي. څومره چې شمېره لوړه وي، هومره ستاسو د تیلو یا سونګ توکو بیلونه لږ وي. په انګلستان او ویلز کې د ملکیتونو اوسط انرژي درجه D ده.

**ویب پاڼه:** www.gov.uk/find-energy-certificate



## د شورا مالیه

**مخکې له مخکې د شورا د مالیې درجه وګورئ. تاسو عموماً، که 18 کلن یا تر دې لوړ یئ او یو کور لرئ یا یې په کرایه نیسئ، باید د شورا مالیه ورکړئ.** د شورا د مالیې بشپړ بیل د لږ تر لږه 2 بالغانو پر بنسټ محاسبه کېږي چې په کور کې اوسیږي. هغه کسان چې ګډ ژوند کوي، په ګډه د بیل د ورکولو مسولیت لري.

دلته ځینې تخفیفونه هم شتون لري.

**ویب پاڼه:** https://www.nelincs.gov.uk/council-tax/

## په ملکیت کې، وګورئ:

- ټولې کړکۍ دوې ښیښې لري او د کړکۍ کیلي سره په اسانۍ خلاصیږي او تړل کیږي.
- ټولې دروازې په اسانۍ خلاصیږي او تړل کیږي.
- آیا ملکیت یو کمبي بایلر لري چې له رادیاتورونو سره وي یا برقي ذخیره کوونکي د ګرمۍ وسیلې (چې په فلټونو یا اپارتمانونو کې عام دي)؟
- آیا په ملکیت کې شاور یا حمام نصب شوی دی؟
- د ګازو د خوندیتوب او برقي خوندیتوب سندونه باید اپډیټ وي (قانوني اړتیا ده).
- آیا د کړکیو شاوخوا، د کوټو په کونجونو یا د دیوالونو له لاندې برخې څخه د رطوبت نښې شته؟
- ټول نلونه کار کوي او تشناب فلش کیږي؟
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ټولې الماری دروازې او دستګیرونه لري او کار کوي.
- کوم فرنیچر او وسایل شامل دي؟ که فرنیچر او وسایل د مالک لخوا وړاندې شوي وي، نو دوی مسول دي چې که کومه ستونزه پیښه شي، دغو وسایلو ته رسیدنه وکړي. یو چکلیسټ جوړ کړئ چې څه شی پکې شامل دي.
- که باغچه وي، کومه برخه ستاسو مسولیت دی چې پاکه او منظمه یې وساتئ؟
- آیا کوم د پارکینګ ځایونه شته او د کارولو په اړه یې کوم محدودیتونه شته؟ یعني، جواز.
- ستاسو ګاونډیان څوک دي؟ له کرایې ورکوونکي استازي یا اجنټ څخه وپوښتئ که دوی پوهیږي، او د هغو نښو نښانو په لټه کې شئ چې ممکن تاسو ته معلومات درکړي، لکه په باغ کې د لوبو سامانونه.
- د ورځې او شپې په وخت کې سیمه وګورئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې ګرځېدل پکې خوندي دي.
- آیا کوم نیږدې ښوونځي او پلورنځي شته چې تاسو ورته اړتیا لرئ؟
- آیا دوی کورني حیوانات مني؟ آیا د دې لپاره اضافي بیعانې ته اړتیا ده؟
- آیا ملکیت د اوبو په میټر دی؟
- تاسو به څنګه خپل د خدمتونو بیلونه ورکړئ؟ آیا دا له کرایې سره شامل دي که نه؟

## د درغلیو په اړه خبر اوسئ

**د ملکیت د درغلیو په اړه محتاط اوسئ! هیڅکله بیعانې یا کرایه له مخکې د ویسټرن یونین (Western Union) یا په نغدو پیسو له لارې مه ورکوئ. تل د بانکي کارت یا بانکي لیږد له لارې د یوه بریتانوي بانک حساب ته پیسې واستوئ، او مخکې له دې چې د ملکیت داخلي برخه وګورئ، پیسې مه ورکوئ.**

خلک به ډېرې پلمې او د فشار طریقې وکاروي ترڅو تاسو قانع کړي چې دا باید همداسې ترسره شي، خو دا اکثراً د جعلي ملکیت لپاره درغلي وي. که تاسو په ټولنیزو رسنیو کې یو اعلان ته ځواب ورکوئ، د دوی پروفایل وګورئ. آیا دوی د سیمې بهر یا په بهر کې موقعیت لري؟ د دوی پروفایل تاسو ته څه وایي؟

هوښیار اوسئ او په یاد ولرئ، که څه شی ډېر ښه ښکاري چې واقعیت ولري، نو اکثراً همداسې وي! له بل چا سره هم مشوره وکړئ.



# د کرايي تړون لاسليک کول او کډه کول

- ډاډ ترلاسه کړئ چې سمه موافقه شوې کرایه، بيعانه، او مخکې ورکړل شوې کرايه ليست شوې ده.
- ستاسو نومونه په سمه توګه لیکل شوي وي او که دا ګډه کرایه وي، د هر بالغ نوم ذکر شوی وي یا که دا یوازې د کور شريکولو/HMOsلپاره د کوټې کرایه وي، یوازې ستاسو نوم لیست شوی وي او تاسو یوازې د خپلې کوټې مسول یاست.
- د کرایي موده تایید کړئ چې سمه ده او وروسته څه پیښیږي، آیا دا په میاشتني پرلهپسي قرارداد بدلیږي یا د کرایي یو نوی تړون باید لاسلیک شي؟
- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو ته د لاسليک شوي کرايي تړون يوه کاپي درکړل شوې ده.
- تاسو د خپلې بیعانې ساتنې معلومات ترلاسه کړي دي.
- تاسو د انتقال پر نېټه او د کیلیانو د ترلاسه کولو پر وخت موافقه کړې ده.
- که تاسو ته د کور لوازمو لیست در کړل شي، دا لیست په کور کې وڅیړئ او هغه یاداښتونه ولیکئ چې ورسره موافق نه یاست، د هر ډول زیانونو، نښو یا داغونو عکسونه واخلئ او دا په 14 ورځو کې دننه مالک یا د کرایې ادارې ته وسپارئ، او یوه کاپي له ځان سره وساتئ. په دې وخت کې د اوبو او برښنا/ګاز میټر شمیرې هم واخلئ چې د خپلو خدمتونو چمتو کوونکو سره یې ثبت کړئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د ټولو دروازو، ګراج، الارمونو او نورو لپاره کیلي یا کوډونه لرئ او چې دا په سمه توګه کار کوي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو ته د ګازو د خوندیتوب سند او جلا برقي خوندیتوب سند درکړل شوی وي چې تایید کوي ټول د ګازو وسایل او د ملکیت برښنايي سیستمونه کنټل شوي او په ښه کاري حالت کې دي.



# کوم بېلونه به باید ورکړم؟

## د شورا مالیه (غیراختیاري)

**که تاسو 18 کلن یا تر دې پورته یاست او یو کور لرئ یا یې په کرایه نیسئ، تاسو عموماً باید د شورا مالیه ورکړئ.**

د شورا د مالیې بشپړ بېل د لږ تر لږه 2 بالغانو پر بنسټ محاسبه کیږي چې په کور کې اوسیږي. هغه کسان چې ګډ ژوند کوي، په ګډه د بېل د ورکولو مسولیت لري. که تاسو یو مجرد بالغ یاست چې په یو کور کې اوسیږئ، تاسو د 25% تخفیف لپاره وړ یاست، چې باید غوښتنه یې وکړئ او دا به په اتومات ډول ستاسو په بېل کې شامل نه شي. که ستاسو عاید کم وي، لکه یونیورسل کریډیټ، تاسو د شورا مالیې لپاره د کټې اخیستنې وړ یاست، چې باید غوښتنه یې وکړئ.

د شورا د مالیې د نرخونو او د دې په اړه بشپړو معلوماتو لپاره چې کله تخفیف یا بشپړ معافیت پلي کیږي:

[https://www.nelincs.gov.uk/council-tax/](https://www.nelincs.gov.uk/council-tax/)

تاسو د څه لپاره پیسې ورکوئ:

- د کارپوریټ او ډیموکراتیک خدمتونه (د استوګنې ګټې په ګډون).
- د چاپېریال ساتنه.
- د سیمه‌ایز اقتصاد وده کې مرسته.
- عامه روغتیا او تفریحي اسانتیاوې.
- د ماشومانو او کورنۍ خدمتونه.
- د لویانو خدمتونه.
- د احتیاطي فنډونو مرسته.
- د هامبرسایډ (Humberside) لپاره د پولیسو او جرم کمیشنر.
- د هامبرسایډ د اور وژنې اداره.
- د پارش وړاندې شوې بودیجه.
- نورې بودیجې.

## اوبه (غیراختیاري)

**زموږ سیمه‌ایز عرضه کوونکی انګلیان واټر (Anglian Water) دي، او تاسو باید وګورئ چې ستاسو ملکیت په اوبو میټر دی که نه.**
که تاسو په خپل کور کې اوبو میټر ولرئ او ستاسو کورنۍ کوچنۍ وي، نو تاسو کولی شئ پیسې سپما کړئ. تاسو اړتیا لرئ له خپل مالک یا اداري سره وګورئ چې ایا تاسو ته د اوبو میټر د بدلولو اجازه شته که نه. یو ځل چې میټر نصب شي، تاسو نه شئ کولی بیرته یې زاړه حالت ته واوړئ.
که څه هم د شمال ختیځ لینکن شایر ډېری ملکیتونه د انګلیان اوبو سره تړلي دي، تاسو کولی شئ د اوبو سپما کولو وړیا وسایل آنلاین ترلاسه کړئ ترڅو خپل بېلونه زموږ د ګاونډ عرضه کوونکو څخه را کم کړئ:
د یورکشایر اوبه: [https://www.yorkshirewater.com/your-water/save-water/](https://www.yorkshirewater.com/your-water/save-water/)
په کور کې هم د اوبو سپمولو لپاره یو څو کارونه کولی شئ.

کله چې تاسو غاښونه بورس کوئ، نل بند کړئ، یوازې هغه وخت یې خلاص کړئ چې اړتیا ورته لرئ.

- کله چې لوښي مينځئ، د دې پر ځای چې نل همداسي روان وي، په دستشوی يا سينک کې دومره اوبه واچوئ چې اړتيا ورته لرئ.
- د دې پر ځای چې ځو کوچني بارونه ومينځئ، په تمه شئ چې ټول کالي يوځای وينځئ.
- په لوښي کې يوازې دومره اوبه جوش کړئ چې اړتيا ورته لرئ ترڅو اوبه او انرژي وسپموئ.
- له اوږدو شاورونو ډډه وکړئ.

کله چې تاسو خپل کور ته کډه کوئ، اړتيا لرئ چې انګليان اوبو ته خبر ورکړئ: https://www.anglianwater.co.uk/account-and-bill/moving-home/tell-us-you-are-moving/moving-home-form/

تاسو کولی شئ خپل بېل آنلاين، د ډايرکټ ډيبيټ يا مستقيمي تاديي (Direct Debit) له لارې، يا کله چې بېل ترلاسه کوئ، ورکړئ.
که تاسو د خپلو بېلونو د تاديې په برخه کې ستونزې لرئ، دوی مرسته وړاندې کولی شي. که تاسو مرستې ته اړتيا لرئ، مهرباني وکړئ مستقيماً له انګليان اوبو سره اړيکه ونيسئ. دوی د ټيټ عايد لرونکو کسانو او کورنيو لپاره مختلفي تعرفي وړاندې کوي. له دوی سره د ارزوني لپاره اړيکه ونيسئ.

## ګاز او برېښنا (غير اختياري)

**ملکيتونه ممکن له ګاز او برېښنا يا يوازې برېښنا سره ورکړل شي. د ګاز او برېښنا بيه په تېرو دوو کلونو کې د نړيوالو حالاتو له امله په پراخه کچه لوړه شوې ده.**
دا ممکنه ده چې په راتلونکو کلونو کې نوره هم زياته شي.
تاسو د خپل ګاز او برېښنا د پيسو ورکولو مسول ياست، خو دا ممکن په مختلفو طريقو سره وي. ستاسو مالک ممکن دا د کرايي تړون د برخي په توګه راټولې کړي. خو د خپلو بېلونو ورکولو تر ټولو عامي طريقي دا دي:

1. د مخکي تاديي ميترونه.
2. د مياشتني ډايرکټ ډيبيټ له لارې.
3. هر درې مياشتي وروسته کله چې بېل ترلاسه کوئ.

**د مخکي تاديي ميترونه:**
که تاسو د مخکي تاديي ميټر لرئ، تاسو به وګورئ چې دا يو سمارټ يا ځيرک ميټر دی يا د پخواني ډول کيلي لرونکی ميټر.
که دا د پخواني ډول کيلي لرونکی ميټر وي، تاسو به د برېښنا لپاره يوې کيلې او د ګاز لپاره يوه کارت ته اړتيا ولرئ ترڅو خپل ميترونه په شخصي ډول په هغو پلورنځيو کې چې د Payzone يا Paypoint نښه ولري، تازه کړئ.
تاسو کولی شئ دلته خپل نږدې پلورنځي ومومئ:

**https://www.payzone.co.uk/**

**https://www.paypoint.com/**






**که تاسو سمارټ یا ځیرک میټر کاروئ، کولی شئ آنلاین 7/24 خپل حساب تازه کړئ او د شرکت اپلیکیشن له لارې هم دا کار وکړئ.**

ستاسو مالک کولی شي تاسو ته مشوره درکړي چې ستاسو میټر چیرته دی او ممکن تاسو ته کیلي/کارت درکړي. خو، تاسو ممکن اړتیا ولرئ له خپل عرضه کوونکي څخه یو نوی کارت وغواړئ او د یوه کود په کارولو سره د فعالولو پروسه ترسره کړئ چې عرضه کوونکي یې درکړي او یو پلورنځی پیدا کړئ چې ستاسو د عرضه کوونکي لپاره تشې کیلي/کارتونه لري. ځیني یې په اسانۍ ترلاسه کېدونکي دي او ځیني ممکن غوښتنه وکړئ چې ستاسو ته کور ته ولیږل شي.

ډاډ ترلاسه کړئ چې روښانه لارښوونې وغواړئ چې څه باید وکړئ او دا ولیکئ ترڅو بیا بیا له عرضه کوونکي سره اړیکه ونیسئ.

د ملګرتیا پور او اضطراري پور انتخابونه شتون لري، چې د هر عرضه کوونکي لپاره توپیر لري. ځیني عرضه کوونکي د آنلاین حساب له لارې د کریډیټ پور او ملګرتیا پور ساعتونه وړاندې کوي. نور عرضه کوونکي تر 10£ اضطراري پور وړاندې کوي چې په میټر کې فعالېږي (دا په عرضه کوونکي پورې اړه لري).

## ډایرکټ ډیبیټ

**که تاسو د ډایرکټ ډیبیټ له لارې پیسې ورکوئ، دا به هره میاشت ورته اندازه وي او ستاسو حساب به د دوبي په میاشتو کې په کریډیټ کې وي ترڅو د ژمي په میاشتو کې د تمه شوي زیاتوالي لپاره مرسته وکړي.** دا یوه ښه لاره ده چې تاسو هره میاشت خپله بودیجه په نښه کړئ. که ستاسو عرضه کوونکی فکر وکړي چې تاسو د خپلو بیلونو د پوره کولو لپاره کافي پیسې نه ورکوئ، دوی به دا اندازه زیاته کړي او باید تاسو ته په ایمیل کې خبر درکړي.

## ورځني لګښتونه

**په ټولو مواردو کې، د ګاز، اوبو او برښنا لپاره ورځني لګښتونه شته چې ستاسو په بیلونو کې شامل دي او د تادیې وړ دي؛ ان که تاسو په ټوله ورځ کې هیڅ انرژي یا اوبه ونه کاروئ.** دا لګښت د میټر د وسایلو د ساتنې او کرایې لپاره ورکول کیږي.

که تاسو د مخکې تادیې میټر کاروئ، که تاسو خپل میټر تازه نه کړئ، تاسو به پوروړي شئ، او دا به ستاسو له راتلونکي تازه کولو څخه کم شي.

تاسو کولی شئ خپل مصرف د سمارټ یا ځیرک میټر په مرسته او د خپلو آنلاین حسابونو له لارې وڅارئ، او همدارنګه د خپلو پیسو او د ډایرکټ ډیبیټ اندازه کنټرول کړئ.

## څنګه خپل میټر ولولئ

**که تاسو له ځیرک میټر پرته بل کوم میټر لرئ، نو ستاسو میټر به د کال په اوږدو کې په مختلفو وختونو کې ولوستل شي.** ممکن یو څوک د خدمتونو شرکت څخه راشي چې میټر ولولي، یا له تاسو څخه غوښتنه وشي چې د میټر شمیرې ورکړئ. دا مهمه ده چې تاسو دا غوښتنې له پامه ونه غورځوئ، ځکه چې دا ستاسو حساب تازه ساتي او که په پیسو کې مو بدلون ته اړتیا وي، تاسو ته خبرداری درکوي.

## تلویزیون او د سټریمنګ خدمتونه (اختیاري)

په انګلستان کې، هره کورنۍ چې داسې وسیله (تلویزیون، کمپیوټر، لیپټاپ، تلیفون، ټبلیټ، د لوبو کنسول یا ډیجیټل باکس) لري چې ژوندۍ خپرونې یا په هر چینل باندې سټریمونه ترلاسه کولی شي، باید د تلویزیون جواز ولري. تاسو په کورنۍ کې یوازې یوه تلویزیوني جواز ته اړتیا لرئ، ان که تاسو له پورته یادو وسیلو څخه له یوه نه زیات کاروئ. **ویبپاڼه:**
**www.tvlicensing.co.uk**

د تلویزیوني جواز لګښت په کال کې £169.50 دی (د 2024 کال تر اپریل پورې سم دي). تاسو کولی شئ دا په یو ځل ورکړئ، خو ډیری خلک غوره کوي چې دا لګښت د ډایرکټ ډیبیټ له لارې خپور کړي (£28.25 د لومړیو 6 میاشتو لپاره، او بیا £14.12 په میاشت کې).

**په ژوندۍ بڼه یا لایو تلویزیون څه شی دی او کله زه د دې لپاره جواز ته اړتیا لرم؟**

**لایو تلویزیون** هغه هر پروګرام ته وایي چې تاسو یې په تلویزیون کې د خپرولو پر وخت ګورئ یا ثبتوئ یا په هر آنلاین تلویزیوني خدمت کې په ژوندۍ بڼه بشودل کیږي. دا یوازې ژوندۍ پیښې لکه سپورټ، خبرونه، او موسیقي نه دي، بلکې پر هر چینل هر ډول پروګرامونه پکې شاملیږي، لکه ډرامې، سریالونه، مستندونه او ان فلمونه.
**که تاسو لایو تلویزیون ګورئ، تاسو ته د تلویزیوني جواز درلودل اړین دي:**

- که تاسو په تلویزیون یا په یو آنلاین تلویزیوني خدمت کې ژوندی پروګرام ګورئ.

- نه يوازې د BBC، بلکې د ټولو چينلونو لپاره
- که تاسو يو پروګرام ثبتوئ او وروسته يې ګورئ
- که تاسو پروګرام له ځنډ سره ګورئ
- که تاسو تکراري خپروني ګورئ يا ثبتوئ
- که تاسو پروګرامونه په +1، +2 او +24 چينلونو کې ګورئ يا ثبتوئ
- که تاسو ژوندی خپروني په ريډ بټن (Red Button) خدماتو کې ګورئ
- حتی که تاسو د کيبل، سيټلايټ يا نورو تلويزيوني خدمتونو لپاره پيسې ورکوئ، بيا هم جواز ته اړتيا لرئ

## آيا د يوټيوب په ګډون، زه د آنلاين تلويزيون ليدلو لپاره د جواز اړتيا لرم؟

تاسو د يوټيوب د ويډيوګانو يا کليپونو د غوښتنې په وخت ليدلو لپاره تلويزيوني جواز ته اړتيا نه لرئ. خو که تاسو په يوټيوب کې ژوندۍ تلويزيوني پروګرامونه ګورئ، تاسو جواز ته اړتيا لرئ. د دې يوه بېلګه به ژوندی د Sky News ليدل وي. خو يوازې ژوندی خبرونه يا سپورټ نه دي چې جواز ته اړتيا لري — دا هر هغه پروګرام دی چې د يو تلويزيوني چينل برخه وي، خپور شوی يا ليږدول شوی وي ترڅو هر څوک يې په ورته وخت کې وګوري.

## زه يوازې غير بريتانوي چينلونه ګورم، آيا زه جواز ته اړتيا لرم؟

هو، تاسو اړتيا لرئ چې د هر تلويزيوني چينل ژوندی بڼې (خپرېدونکی يا آنلاين) ليدلو لپاره جواز ولرئ، ان که دا له بريتانيا بهر وي. دا له هغې وسيلې سره هيڅ تړاو نه لري چې تاسو يې کاروئ.

## آيا زه تخفيف ترلاسه کولی شم؟

- که ستاسو عمر 74 کاله يا تر دې زيات وي او تاسو يا ستاسو ملګری چې په ورته پته کې اوسيږي د پنشن يا تقاعد کريډيټ ترلاسه کوئ، تاسو کولی شئ وړيا جواز ترلاسه کړئ.
- که تاسو د پاملرنې په کور يا د محافظتي استوګنې په ځای کې اوسئ، تاسو ممکن د تخفيف شوي فيس په توګه £7.50 ورکړئ.
- که تاسو ړوند ياست (په شديد ډول د ليد توان نه لرئ) تاسو کولی شئ چې د جواز فيس نيمايي برخه ورکړئ (£79.50).
- که تاسو يوازې تور او سپين تلويزيون ګورئ، د جواز لګښت £53.50 دی.

## براډبينډ (انټرنيټ) او د تلويزيون پيکجونه (اختياري)

**تاسو به شايد په خپل کور کې د انټرنيټ تنظيم ته اړتيا ولرئ، او ډېری وختونه دا د تلويزيون سره په يو پيکج کې پلورل کيږي.**

دلته څو مشورې دي:

- وګورئ که دوی د "ملګري ته راجع کولو" وړانديزونه لري، د مثال په توګه، ځيني ممکن د نويو پيرودونکو لپاره ځانګړي معاملې ولري او هغه اوسنی پيرودونکی چې تاسو ته راجع کوي هم يو څه کټه ترلاسه کړي. (په لاسرسي پورې اړه لري)
- معاملې اکثره د 6، 12 يا 18 مياشتو لپاره دوام کوي او بيا بيه لوړيږي.



- کله چې ستاسو د نوي پیرودونکي وړاندیز پای ته ورسیږي، یادونه وکړئ او له شرکت سره اړیکه ونیسئ ترڅو وګورئ چې که دوی تاسو ته نوی وړاندیز کولی شي.
- بیې په میاشت کې د £25-£80+ شاوخوا توپیر لري او ځینې وختونه د تنظیم فیس هم شامل وي.
- وګورئ چې آیا تاسو د خپل موبایل ټیلفون عرضه کوونکي له لارې کومه معامله ترلاسه کولی شئ، د مثال په توګه، O2 پیرودونکي د Virgin Media له لارې وړیا ځواکمن شوی انټرنیټ ترلاسه کوي.
- تاسو کولی شئ یو Freeview بکس هم واخلئ چې تاسو ته د شاوخوا 50 چینلونو لپاره وړیا ډیجیټل تلویزیون درکوي.
- د غوره معاملې موندلو لپاره د پرتله کولو ویبپاڼې وکاروئ. (لکه لاندې مثالونه).

[https://www.uswitch.com/broadband](https://www.uswitch.com/broadband)
[https://www.moneysavingexpert.com/compare-broadband-deals](https://www.moneysavingexpert.com/compare-broadband-deals)
[https://www.comparethemarket.com/ps/broadband](https://www.comparethemarket.com/ps/broadband)

---

# ستاسو د کور فرنیچر

**ستاسو کور ممکن له وړاندې ځینې فرنیچر او وسایل ولري، یا یې ممکن هېڅ ونه لري.** مهمه ده چې تاسو لومړني اړین توکي لومړی برابر کړئ — داسې ځای چې پکې پخلی، خوړل، ویده کېدل، او ناستی وکړئ. بیا تاسو کولی شئ په وخت سره نور توکي اضافه کړئ، هره میاشت د سپما شوو پیسو له لارې مختلف توکي واخلئ.
د ټیټ لګښت لرونکي فرنیچر ترلاسه کولو لپاره، د بدیلو عرضه کوونکو، خیریه پلورنځیو یا فیسبوک مارکیټ او د پلور پاڼو په لټه کې شئ، لکه:

- **Cleethorpes Swaps & Sales**
- **Grimsby Swaps & Sales**
- **Free Stuff in Grimsby and Cleethorpes**
- **Free Stuff in Grimsby / Cleethorpes**
- **Stuff For Free Give It Away Free Grimsby & Cleethorpes**
- **Free To Good Home In GRIMSBY, CLEETHORPES & IMMINGHAM**

تاسو کولی شئ په دغو پاڼو کې اعلانونه خپاره کړئ او د هغو توکو غوښتنه وکړئ چې اړتیا ورته لرئ. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې ډیری پلورونکي د توکو تحویلي نه کوي، نو تاسو به اړتیا ولرئ چې د لویو توکو د راټولولو لپاره د ځان لپاره د یوه موټر خدمت تنظیم کړئ.
په ځینو مواردو کې، د شمال ختیځ لینکن شایر د کډوالو خدمت ممکن د کور فرنیچر برابرولو کې مرسته وکړي. ډیری شیان چې وړاندې کیږي د ښه کیفیت دویم لاس توکي وي. مهرباني وکړئ د لا زیاتو جزیاتو لپاره د خپل ملاتړ کارکوونکي یا د استوګنې افسر سره خبرې وکړئ.
د دغو توکو په نه اخیستلو به تاسو ښه بودیجه ولرئ چې نور ضروري توکي، لکه پردې، هرکارې یا تخمپزی، بشقابونه؛ چړې، کاشوخې او پنجې؛ بستره، او تلویزیون پخپله واخلئ.



# سم توکي په سمو کثافتدانیو کې



## اسماني شنه کثافتداني

خپلې بستې فلیټ کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې کارت او کاغذ پاک او وچه وي.

کاغذ او کارت په انګلستان کې بیاکارول کیږي.

## هو، مهرباني وکړئ



ورځپاڼې او مجلې

(په پلاستیکي کڅوړه کې نه)



لیکونه، د یاداښت کاغذ او پاکټونه

(له کړکیو سره یا پرته له کړکیو)



د کارت بورډ بستې
ټیوبونه او د بسته بندۍ کارت بورډ
(تولي پولیستایرین، بولبل بسته بندي او نورې بسته بندۍ لرې کړئ)



د مبارکۍ کارتونه او د ډالۍ کولو کاغذ



ټوټه شوي کاغذونه
(په پلاستیکي کڅوړه کې نه وي)



بېځایه پوستونه
(مینوګاني، بروشر او داسې)

## نه، مننه



د کتابچو سیمونه



کتابونه



ټیترا-پک کارتونونه (لکه د جوس کارتونونه)



د پیزا یا خوړو بستې

که تاسو د بیاکارولو بستې کاروئ، کاغذ او کارت باید په خپل **شین بکس** کې واچوئ.

# خړه کثافتداني



ډاډ ترلاسه کړئ چې توکي پاک دي. بوتلونه او پلاستيکي توکي واړه کړئ.
پلاستيک، فلزات او شيشې په انګلستان کې بياکارول کيږي.

## هو، مهرباني وکړئ



ټين او قوطي



کڅوړې، د خوراکي توکو ټيوبونه،
او پتنوسونه (تور پلاستيک نه)



پلاستيکي بوتلونه



د شيشې بوتلونه



د بسکيټو او خوږو ټينونه




د کور تش ايرولونه

## نه، مننه



د ښيښې توتې، ماته
ښيښه، هنداره يا
پايريکس



د رنګ، غوړو يا
محلولونو کانټينرونه



د څښاک کارټونونه
د فلزي ورقه او ورقې
پتنوسونه



پوليسټايرين
پلاستيکي کڅوړې او د
کثافاتو کڅوړې

که تاسو د بياکارولو بستې کاروئ، ښيښه په خپل شين بکس کې اچوئ، پلاستيکي بوتلونه، د خوراکي توکو ټيوبونه، پتنوسونه او
کڅوړې او د فلزي ټينونه او قوطي په خپل نارنجي بکس کې واچوئ.

# سم توکي په سمو کثافتدانيو کې



## شنه کثافتداني

د کور کثافات له Waste Plant څخه د انرژی په تولید کې کارول کیږي. ډېر لږ یې ځمکې ته اچول کیږي. خپل کثافات مخکې له دې چې په کثافدانی کې واچوئ، په کڅوړه کې یې واچوئ.

## هو، مهرباني وکړئ



پولیستایرین او بولبل بسته بندي




د چپس او خوږو بسته بندي



پلاستيکي کڅوړې او کلینګ فلم



په کڅوړو کې د کور کثافات



د څښاک قوطي



د خوراکی مواد‌و قوطي



پمپرونه، پاکوونکي، دستمالونه او د مخ ماسکونه



پلاستیکی ګلدانی

## نه، مننه



د ودانیزو موادو کثافات



خطرناک کثافات



برقي توکي



بیټری

مهرباني وکړئ دا توکي د کثافاتو ځای یا د پلورنځي د بیاکارولو نقطې ته یوسئ.

# قهوه‌اي کثافتداني



د باغ کثافات د کمپوست جوړولو لپاره کارول کیږي. موږ د تادیه شوي باغ کثافاتو خدمت وړاندې کوو. له 26,000 څخه زیاتې کورنۍ دا کاروي.

جزیات: www.nelincs.gov.uk/gardenwaste

## هو، مهرباني وکړئ



ګلونه او نباتات



د ځنډو پرې شوې توټې



د واښو پرې شوې توټې



څانګې او لرګي



پاڼې



غورځېدلې مېوې

## نه، مننه



او لویې څانګې یا لرګی



د ودانیو کثافات



د خوړو کثافات



خاوره

د خوړو کثافات په خپله شنه کثافتدانۍ کې واچوئ (یا د خوړو کثافاتو په کثافاتو کې چې که تاسو د پایلټ برخه یاست). مهرباني وکړئ نور توکي د کثافاتو ځای ته یوسئ.

# سم توکي په سمو کثافتدانیو کې

## کثافات لرې کړئ

تاسو کولی شئ د کور ډیری ډول کثافات او بیاکارول د ټولني د بیاکارولو مرکزونو (CRC یا د کثافاتو ځای) ته وړیا یوسئ.
**د ګریمسبي (Grimsby) او ایمینګهم (Immingham) د کثافاتو ځایونه هره ورځ د سهار له 8 بجو څخه تر ماښام 6 بجو پورې خلاص وي، او د کرسمس او نوي کال د ماښام له 8 بجو څخه تر 4 بجو پورې خلاص وي. د کرسمس په ورځ، بوکسینګ ورځ، او د نوي کال په ورځ تړل کیږي.**
د ګریمسبي کثافاتو ځای په بوخت وختونو کې مصروف وي، د دې پر ځای په ایمینګهم کې هڅه وکړئ.

**Grimsby Community Recycling Centre**, Estuary Way, Pyewipe Industrial Estate, Grimsby, DN31 2UD

**Immingham Community Recycling Centre**, Queens Road, Immingham, DN40 1QN

که تاسو یو سوداګریز موټر، ټریلر یا لوی موټر کاروئ (د خلکو وړونکي موټر، 4x4s او د املاکو موټې په ګډون)، مخکې له دې چې لاړ شئ، د اعلان آنلاین فورمه ډک کړئ.

**www.nelincs.gov.uk/tip**



## درانه کثافات

**موږ د لویو توکو او برقي سامانونو لپاره د لګښت مؤثره درنو کثافاتو خدمت وړاندې کوو. دا آسانه ده چې دلته د آنلاین وخت او ځای ونیسئ**

[www.nelincs.gov.uk/BulkyWaste](www.nelincs.gov.uk/BulkyWaste)





# خپلي کثافتدانۍ
# بهر ایښودل



## پر کثافتدانۍ د خپل کور شمېره ولیکئ

مهرباني وکړئ کثافتدانۍ د سهار تر 7 بجو پورې بهر کېږدئ او سر یې خلاص مه پرېږدئ.
کله چې موږ راشو، کثافتدانۍ مو بېرته ننباسئ




اضافي کثافات مو پخپله کثافتدانۍ ته یوس، موږ اضافي کثافات نه وړو

**د پاملرنې دنده**

تاسو د پاملرنې وظیفه لرئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو کثافات په مسولانه او قانوني توګه لرې کیږي. که تاسو د خپلې شنې ټایر لرونکې کثافتدانۍ لپاره ډېر کثافات لرئ، دا ممکن په دې معنی وي چې تاسو تر خپله وسه بیاکاورونه نه کوئ. له دغه لارښود څخه کار واخلئ ترڅو وګورئ چې څه شی بیاکارولای شئ. که تاسو اضافي کثافات له خپلې کثافتدانۍ یا د بیاکارونې بکسونو سره پرېږدئ، تاسو ممکن جریمه شئ. که تاسو خپل کور له یو شخصي مالک څخه په کرایه نیولی وي، ستاسو مالک باید تاسو ته کثافتدانۍ یا د بیاکارونې بکسونه درکړي.

# د کور ساتنې لپاره غوره لاربښوونې

## د ترمیمونو راپور ورکول، شکایتونه، او ډیکوریشن

**ستاسو مالک/د کرایې استازی د دې مسولیت لري چې ستاسو د ملکیت او هر هغه توکي چې دوی وړاندې کوي، ترمیم کړي.**
دا ډېره مهمه ده چې تاسو په خپل کور کې د برېښنا یا ګاز د ترمیم هڅه ونه کړئ. که تاسو دا کار وکړئ، نو ممکن د مسلکي کس لخوا د سمولو لپاره پیسې دربانديې ولګېږي او د مالک د کور بیمې باندې هم اغېز کولی شي.
ستاسو مالک د پاملرنې وظیفه لري چې ډاډ ترلاسه کړي تاسو د تودوخې، ګرمې اوبو، د حمام اسانتیاوو، او د کارې تشناب لاسرسی لرئ.
که دوی په مناسب وخت کې ترمیمونه ترسره نه کړي یا تاسو ته مناسب بدیل ترتیبات برابر نه کړي، تاسو حق لرئ چې دا د شمال ختیځ لینکن شایر شورا ته راپور ورکړئ ترڅو اقدام وکړي.
**ویبپاڼه:** www.nelincs.gov.uk/report-it

موږ مشوره درکوو چې لومړی هڅه وکړئ د رسمي شکایت تر وړاندې کولو وړاندې کومې ستونزې چې ستاسو او ستاسو د مالک ترمنځ شته، په خپل منځ کې یې حل کړئ، ترڅو د نورو جنجالونو مخه ونیسئ.
تاسو باید له خپل مالک/د کرایې استازي سره وګورئ چې آیا تاسو ته د ډیکوریشن کولو اجازه درکوي که نه. دوی ممکن یوازې هغه وخت اجازه درکړي چې تاسو د وتلو پر مهال ملکیت بېرته خپل اصلي وضعیت ته راوګرځوئ. مالکین عموماً له سور یا تور رنګ سره موافقه نه کوي، ځکه چې پر دغو رنګونو بیا نور رنګ وهل سخت وي.
تاسو باید په ملکیت کې لوی جوړښتي بدلونونه یا د نصب شوي فرنیچر لرې کول ترسره نه کړئ.
که تاسو له خپلو ګاونډیانو سره کومه ستونزه لرئ او د دوی مالک یا د کرایې اداره پېژنئ، نو تاسو کولی شئ لومړی له دوی سره اړیکه ونیسئ.
که تاسو نورو مرستو ته اړتیا لرئ، تاسو کولی شئ د شمال ختیځ لینکن شایر شورا د ټولنې ضد چلند ټیم سره خبرې وکړئ.
**ویبپاڼه:** https://www.nelincs.gov.uk/keeping-our-area-clean-and-safe/

که تاسو د خپل کور لپاره اضافي امنیتي تدابیرو ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ له خپل ملاتړي افسر څخه وغواړئ چې د خوندي ټولنو ټیم ته مراجعه وکړي. تاسو ممکن د دروازې او کړکۍ الارمونو یا خبرتیاوو په څېر توکي ترلاسه کړئ.

## ګرمي اوبه یا تودوخه نشته؟

لومړی وګورئ چې آیا د بریښنا/ګاز په میټر کې کریډیټ شته، بیا دا ګامونه تعقیب کړئ:

1. د بایلر شمېره چیک کړئ؛ آیا دا 0 ته نږدې ده؟ دا یعني چې فشار ټیټ دی او تاسو اړتیا لرئ چې دا لوړ کړئ. ستاسو بایلر به یو کوچنی تور لیور ولري چې چپ او ښي طرف ته تاوېږي، دا د والو د پرانیستلو او تړلو لپاره دی. والو خلاص کړئ ترڅو فشار زیات کړئ او د شمېرو ګېج وګورئ چې شنه سیمې ته پورته شي، بیا والو بیا وتړئ. د والو تړل باید په یاد ولرئ، که نه نو فشار به دوام وکړي او زیان به ورسوي.





2. **رادیاتورونه چیک کړئ، آیا چالان دي؟**
آیا په سر کې ګرم دي، خو په لاندې برخه کې نه دي؟ دا یعني احتمالاً د ختو جوړېدنه شوې ده. تاسو اړتیا لرئ خپل مالک ته خبر ورکړئ چې د دغو پاکول اړین دي. ځیني وختونه، رادیاتورونه یوازې هوا خوشې کولو ته اړتیا لري. تاسو کولی شئ یو ارزان بیه رادیاتور والو واخلئ او یو څه هوا خوشې کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې یو بالټ ولرئ ترڅو هر ډول خوشې شوې اوبه ونیسئ.

3. **آیا بایلر اور اخیستی دی؟** دا معمولا په بایلر کې د شنه یا نارنجي څراغ پر ځای له سور څراغ سره څرګندېږي. هڅه وکړئ چې بایلر بیا تنظیم کړئ؛ سویچ څو ثانیې ونیسئ بیا یې پرېږدئ.

4. **آیا ګرمي اوبه کار کوي**، خو تودوخه نشته یا برعکس؟ دا کولی شي د تقسیم والو (diverter valve) ستونزه وي. تاسو اړتیا لرئ د خدمت مرکز سره اړیکه ونیسئ چې یو انجنیر ورته تنظیم شي.

5. آیا له رادیاتورونو یا بایلر څخه کوم لیک شوی ځای شته؟ تاسو به اړتیا لرئ چې خپل مالک ته زنګ ووهئ ترڅو هر ډول لیک ترمیم کړي، خو ډاډ ترلاسه کړئ چې د لیک تر کتو وروسته رادیاتورونه ژر تر ژره بند کړئ ترڅو د اوبو زیان د فرش یا د دیوالونو ته مخه ونیول شي. که د يوې لويې ليکي له امله د کور له هرې برخې د ابو راوتلو خطر وي، تاسو به اړتیا لرئ چې د اوبو جریان په "سټاپکوک" کې بند کړئ. دا معمولاً د دستشوی یا سنک لاندې وي، د نل یا والو په څېر ښکاري او ښايي نيلي نل یا لیور ولري.



6. آیا په کور کې له کوم ځای څخه د ګاز بوی احساس کوئ؟ په بایلر کې د ژیړ لیور په لټه کې شئ ترڅو د ګاز جریان بند کړئ او سمدلاسه د نارترن ګاز خدمتونو (Northern Gas Works) سره **په 0800 111 999 اړیکه ونیسئ. د ګاز جریان مه کاروئ، اورونه یا د روښنانه کولو وسایل لکه لایټرونه، سګریټونه یا نور د سګریټ څکولو توکي مه کاروئ، او همدارنګه د ګاز چولی مه کاروئ. آیا مخکې مو ګاز بند کړی و؟**
**آیا اوس اړتیا ده چې بېرته یې پرانیزئ؟**



7. هېڅکله هڅه مه کوئ چې خپل بایلر ترمیم کړئ، یا بل چاته اجازه مه ورکوئ، مګر دا چې په لیست کې وي. د هر چا لپاره غیر قانوني ده چې **پرته له مناسبو روزنو او پرته له دې چې له Gas Safe سره راجستر وي، په ګازي وسایلو کې کار وکړي.**


# رطوبت یا اوبه پیدا کېدل (Condensation)

په انګلستان کې کورونه عمومي ډول لکه ستاسو په خپل هیواد کې نه موصل کېږي یا د هوا جریان نه لري. په عمومي ډول رطوبت کومه اندېښنه نه ده، دا عادي خبره ده چې دا په سړو کړکیو باندې د شیې په اوړدو کې په خوبخونه کې یا کله چې تودوونکي وسایل چالان وي، را څرګند شي. دا هغه وخت رامنځته کېږي چې کله دننه هوا نور رطوبت نشي ساتلی. خو که تاسو وګورئ چې دا په دوامداره توګه یا په سړو دیوالونو باندې پېښیږي، نو دا ممکن د فنګس یا چڼاسی لامل شي. ځینې مهم ځایونه شته چې دا پکې پېښیږي، په عمده توګه پخلنځی او تشناب. دلته دا هغه څه دي چې تاسو یې کولی شئ ترڅو د رطوبت مخه ونیسئ:

ډاډ ترلاسه کړئ چې که تاسو یو وینټیلیټر یا مصنوعي هواکش شئ، باید دا په لاندې حالاتو کې چالان کړئ:



کله چې پخلی کوئ



کله چې شاور یا حمام کوئ



کله چې دننه کالي وچوئ

رطوبت عموماً د یخ موسم پر مهال رامنځته کیږي، او دا کومه 'نښه' نه پرېږدي. دا په سړو سطحو او هغو ځایونو کې را څرګندیږي چې د هوا لږ حرکت وي. په کونجونو کې یې ولټوئ، په یا د کړکیو سره نږدې او په یا د الماریو او د انبارونو شاته شیانو کې. دا اکثره په شمالي اړخ دیوالونو باندې رامنځته کیږي او د تور فنګس یا چڼاسې په بڼه ښکاري.

**تاسو کولی شئ د لاندې ساده ګامونو په تعقیب په خپل کور کې رطوبت کم کړئ.**

**کم رطوبت تولید کړئ**

- هرکارو یا تخمېزیو ته یې پوښونه ور واچوئ او د ګازو کټل مه پرېږدئ چې په پرلهپسې توګه جوش شي.
- له پارافین او د ګازو بېوالو ګرځنده بخاریو څخه ډډه وکړئ.
- خپل جامې بهر د جامو لاین کې وچوئ، یا یې په تشناب کې کېږدئ. دروازې وتړئ، کړکی خلاصې کړئ او ایستونکې پکه چالانه کړئ.
- له دې ډډه وکړئ چې کالي په رادیاتورونو وچ کړئ؛ پر ځای یې د وچولو وسیله وکاروئ او تودوخه چالان کړئ یا کړکی خلاصه کړئ ترڅو اوبه له کور څخه بهر لاړې شي او په دیوالونو پاتې نه شي.
- د جامو وچولو ماشین ته د هوایی وتلو لاره د کور څخه بهر ونیسئ، مګر دا چې دا پخپله رطوبت لرونکې وي. د دې لپاره د DIY کېټونه شته.

**د رطوبت د لرې کولو لپاره هوا بهر وباسئ**

- هر سهار د 15 دقیقو لپاره د خپلې خوبخونې کړکی خلاصه کړئ ترڅو په هوا کې اوبه بهر لاړې شي.
- کله چې ځوک په کوټه کې وي، یوه کوچنی کړکی لږ خلاصه یا د ټریکل هواکش خلاص پرېږدئ.
- د کړکیو په خلاصولو یا که کړکی نه وي د ایستونکې پکې په چالانولو له هغه پخلنځی او تشناب نه چې ګټه ترې اخلئ، هوا وباسئ.
- کله چې پخلنځی یا تشناب کارول کیږي، دروازې وتړئ، ان که په پخلنځی یا تشناب کې ایستونکې پکه موجوده وي. د دروازې تړونکی مرسته کوي چې رطوبت نورو خونو ته ونه رسیږي، په ځانګړي توګه خوبخونې چې عموماً یخې وي او ډېر امکان لري چې رطوبت پیدا کړي.
- د الماریو هوا وباسئ. له دې ډډه وکړئ چې ډېر شیان پکې کیږدئ ځکه چې دا د هوا د جریان مخه نیسي.
- د الماری او دیوال تر منځ ځای پرېږدئ او دا ځای ډېر مه ډکوئ. که ممکنه وي، الماری او فرنیچر په داخلي دیوالونو کې ځای په ځای کړئ.
- لوښکې، کالي یا بستې له دیوالونو سره مه تپئ، ځکه چې دا د رطوبت د جریان مخه نیسي.
- په یخو میاشتو کې په منظم ډول د کور تودوخه چالان کړئ او مه هېروئ چې هغو خونو ته هم تودوخه ورکړئ چې تاسو یې ډېرې نه کاروئ.



## د رطوبت نور لاملونه

- د کړکیو سیلنټ چیک کړئ چې آیا کوم درزونه یا له سیلنټ خالي ځایونه شته کنه. که درزونه او له سیلنټ خالي ځای وي نو بهرني هوا به دننه کوټې ته ننوځي.
- د حمام یا شاور سیلنټ او په دیوال کې خښتې وګورئ چې آیا ډېر درزونه او سوري شته کنه. که درزونه وي، نو د حمام اوبه به دننه پکې بندېږي.
- د ودانۍ یا کور په سر کې ګټرې وګورئ، که دا له پاڼو، ختو یا د مرغانو له ځالې ډک وي، نو باران به پکې زیات شي او د دیوالونو په اوږدو کې به ښکته بهیږي. که په ښکته پایپونو کې درز وي، نو اوبه ممکن په دیوالونو باندې راووځي. تاسو کولی شئ دا د دې په پوهیدو سره ووایئ چې په کور کې اغیزمنه ساحه چیرته ده او د بهرني دیوال په ساحه کې وګورئ.
- د ودانۍ په بیرونۍ برخه کې د خښتو ترمنځ سیمنټ وګورئ. که ډېرې درزونه او سوري شته وي، نو بهرنۍ هوا به دننه کور ته ننوځي.
- د مخکې او شاته دروازې وګورئ. که د چوکاټ په لرګیو کې درزونه وي، نو بهرني هوا به کور ته ننوځي.

**د رطوبت درملنه**
که تاسو د فنګس ستونزه لرئ:

**يوازې هغه وخت خپل فنګس لرې کړئ چې د رطوبت له امله وي او ټوله پوښلې ساحه يې له 1 متر مربع (1x1 ميتر يا 3x3 فټ) څخه کمه وي.**

- يو ستل له اوبو او لږ نرم پاکوونکي ډک کړئ، لکه د لوښو مينځلو مايع يا هغه صابون چې د لاسونو د جامو مينځلو لپاره کارول کيږي.
- يو ټوکر د صابون اوبو کې غوټه کړئ او په احتياط سره له ديوال څخه فنګس پاک کړئ. هڅه وکړئ چې دا بورس نه کړئ، ځکه چې دا د فنګس سپورونه خپروي.
- کله چې مو کار بشپړ کړ، يو وچ ټوکر وکاروئ ترڅو له ديوال څخه رطوبت لرې کړئ. ټوکرونه په پلاستيکي کڅوړه کې واچوئ او ويې غورځوئ.
- په کوټه کې ټول سطحي ځايونه بايد په بشپړه توګه په لانده پاکوونکي يا برقي جارو پاک شي ترڅو هر ډول سپورونه لرې شي. تاسو کولی شئ په ډيری سيمه ايزو پلورنځيو کې ځانګړي د فنګس ضد مايعات واخلئ.



# د اوبو بندې لارې

**ډېر بندښتونه د زموږ د خپلو عادتونو له امله رامنځته کېږي، او تاسو کولی شئ له دغو عامو تېروتنو څخه په ډډه کولو سره د اوبو لارو یا ډرینونو بندښت د ډېر ځل پیښېدو مخه ونیسئ.**

### مه کوئ

د مخ پاکولو یا میک اپ پاکولو وایپونه په تشناب کې مه اچوئ.

د حفظ الصحي محصولات په تشناب کې فلش مه کوئ.

اجازه مه ورکوئ چې ویښتان په شاور/دستشوی یا سنک کې جمع شي.

د خپلې بورس یا د دستشوی د بندیدو ځایونو څخه د ویښتانو ټوټې په تشناب کې مه فلش کوئ.

د پخلنځي د دستشوی له لارې اضافي خواړه مه وینځئ.

د سګریټ بیخونه په تشناب کې فلش مه کوئ.

### وکړئ

د شاور/دستشوی د اوبو لارې له ویښتانو څخه پاکې کړئ او په کثافتدانی کې یې واچوئ.

خواړه له خپلو بشقابونو او د پخلنځي ځایونو څخه پاک کړئ او په کثافتدانی کې یې واچوئ.

مخکې له دې چې نلدوان ته زنګ ووهئ، هڅه وکړئ د یوه پمپ یا پلنجر په کارولو سره بندښت پاک کړئ.

د اوبو لارو یا ډرینونو څخه پاني او نور کثافات پاک کړئ ترڅو د اوبو ډکوالي او بندښت مخنیوی وشي.

---

# د افتونو کنټرول

که تاسو شک لرئ چې په کور کې د افتونو یرغل شته، ژر تر ژره خپل مالک ته خبر ورکړئ ترڅو دوی یې د حل کولو پروسه پیل کړي. محلي اداره د افتونو کنټرول خدمت نه لري.

## کومو افتونو ته باید پام وکړئ؟

ځینې افتونه چې خلک په انګلستان کې ورسره معمولاً ستونزې لري، دا دي:

| | |
|---|---|
| • موږکان | • چنجیان |
| • لوی موږګان | • غنې |
| • ګیدړ | • سوسک یا کاکروچ |
| • مچې | • مېږیان |
| • د شاتو مچې | • بستري چینجیان |

دغه افتونه به مختلفي ستونزې رامنځته کړي او د دوی له لوري د ګواښ کچه د احتمالي حساسیتونو یا فوبیاوو سره توپیر لري. په داسې حال کې چې ګیدړ به یوازې ستاسو په کثافتدانیو کې کثافات لټوي او که تاسو بهر هم ووځئ، دوی به وېرېږي چې تاسو ته رانږدې شي، د مچیو ځاله که ګډوډه شي، کولی شي د ځینو ناوړه چیچلو لامل شي.
دا مهمه ده چې تاسو هر هغه څه ترسره کړئ چې د افتونو یرغل مخنیوي لپاره اړین وي، هم په کور کې دننه او هم بهر.

**دننه**

د خواړو کثافات باید په کور کې ستاسو لومړنی اندېښنه وي. د پخلنځي یا ناستې په خونه کې باید ټوټې او عمومي خواړو پاتې شوي پاک شي، او هر ډول پاتې شوي خواړه باید په هوایي تړل شوي قوطي کې وساتل شي، ترڅو مېږیان ورته جذب نه شي. د کثافتدانیو او د خواړو کثافاتو په برخه کې، کثافتداني باید تل تړلی یا مهر شوی وي. کله چې ډک شي، د کثافتدانی لاینر لرې کړئ او دا بهر د خواړو کثافاتو کثافتدانی ته یوسئ.
پاکوالی باید ستاسو د کور د حفظ الصحي ساتلو لپاره ترسره شي، خو که شیان په ځانګړي ډول پاک نه وي، افتونه به په اسانی سره وده وکړي. ډاډ ترلاسه کړئ چې د پخلنځي کاونټرونه، مېزونه، او فرشونه په منظم ډول پاک کړئ ترڅو د ټوټو او خواړو راټولېدنې مخنیوی وشي. که په خوب‌خونه یا د ناستې خونه کې ګډوډي وي، دا باید په منظم ډول پاکه شي، ځکه چې دا افتونو ته د پټېدو ځایونه او کورونه برابروي. تاسو باید همدا راز ډاډ ترلاسه کړئ چې په منظمه توګه جارو کړئ، نه یوازې د فرشونو او نورو سطحو د پاکولو لپاره، بلکې د افتونو او د هغوی هګیو د نیولو لپاره هم.

دلته نورې لارې چارې دي چې تاسو کولی شئ د افتونو له کور نیولو څخه د مخنیوي لپاره یې ترسره کړئ:

- په دیوالونو کې د هر ډول درزونو یا سوریو راپور ورکړئ چې ممکنو حشراتو یا موږکانو ته ستاسو کور ته د ننوتلو لار برابره کړي.
- هر ډول لیکونه ترمیم کړئ چې ممکن اوبه پکې پاتې شي.
- که کوم کورنی ژوی لرئ چې بهر وخت تیروي، په منظم ډول یې د چنجیو لپاره وڅارئ.
- که تاسو شک لرئ چې په دیوالونو کې موږک شته یا که ستاسو په کور کې ډېرې ننوځي، راپور یې ورکړئ.

**بهر**

دا چې افتونه ستاسو کور ته له بهرنی برخې څخه داخلیږي، نو کله چې د افتونو د یرغل مخنیوي ګامونه اخلئ، مهمه ده چې خپل باغ او بوټي له پامه ونه غورځوئ:

- که تاسو بهر یاست، له میاسو او مچیو څخه د خپل باغ لرې ساتلو لپاره د سیترونیلا (citronella) شمعې وکاروئ.
- د لرګیو ډنډونه او پاتې شوني د ځنډنو او موریانو لپاره پټنځایونه کېدی شي، چې تاسو باید له خپل کور څخه لرې وساتئ. که امکان وي، هڅه وکړئ چې په خپل باغ کې د لرګیو ملچ یا چپس ونه کاروئ، او هر ډول د لرګیو ډنډونه لږ تر لږه شل فوټه له خپل کور څخه لرې وساتئ.
- هر ډول د ونې څانګې یا بوټي ښه پرې کړئ ترڅو دوی له کور څخه لرې وساتئ، ځکه چې دا افتونو ته د کور دننه تګ لارې برابرولی شي.
- د مرغانو لپاره د خواړو د اخیستلو پټنوس وکاروئ ترڅو غورځیدلي خواړه ونیسي، ځکه چې دا کولی شي موږکان جذب کړي.

# ستاسو د لوګي الارم ازموینه

د لوګي الارم لږې ساتنې ته اړتیا لري، خو دا ساتنه کولی شي ژوند وژغوري. که څه هم بېلابېل جوړښتونه او ماډلونه شته، تاسو کولی شئ د دوی موثریت په دوو طریقو کې وازموئ.

**1 طریقه:**

ډېری د لوګي الارمونه به د ازموینې تنۍ ولري. په احتیاط سره د پلې زینې څخه پورته ودرېږئ، او که اړتیا وي، د اوږده لاسي وسیلې په کارولو سره تنۍ فشار ورکړئ. الارم باید وغږېږي.

**2 طریقه:**

یو څو ګوګړ ولګوئ او بیا یې لمبه مړه کړئ ترڅو لوګی پورته د لوګي الارم ته وخیژي. که کشف کوونکی کار کوي، الارم به وچغېږي.

**څه باید وکړئ:**

بیټرۍ بدل کړئ. که دا بیا هم کار ونه کړي، یا که بیټرۍ نشي بدلیدلی، نو الارم باید بدل شي.

**زه باید څو ځله د لوګي الارم وازمویم؟**

ځیني خلک وړاندیز کوي چې دا هره میاشت وازموئ؛ ځیني وړاندیز کوي چې دا د ساعتونو د بدلون پر مهال وازموئ. دا ستاسو په خوښه ده – خپل الارمونه هر څومره چې تاسو ورسره د راحتۍ احساس کوئ، وازموئ.

**د لوګي الارم عمومي ساتنه**

- هر ځای چې اړتیا وي، دوړې پاکې کړئ.
- هیڅکله بیټرۍ مه لرې کوئ چې په بل څه کې یې وکاروئ، ځکه چې ممکن بیټرۍ بېرته ایښودل یې هېر کړئ.
- ان که بیټرۍ لا هم کار کوي، په کلني ډول یې بدله کړئ.
- هر لس کاله وروسته الارم بدل کړئ.



# ستاسو د کور ساتنه

| خدمتونه | |
|---|---|
| د اوبو بندولو ځای دلته موقعیت لري: | |
| د اوبو میټر دلته موقعیت لري: | |
| د بریښنا میټر دلته موقعیت لري: | |
| د فیوز بکس دلته موقعیت لري: | |
| د لوګي الارم دلته موقعیت لري: | |
| د تلویزیون انتن ساکټ دلته موقعیت لري: | |
| د ټیلفون لاین ساکټ دلته موقعیت لري: | |
| ترموسټاټ دلته موقعیت لري: | |
| د انرژۍ عرضه کوونکی دا دی: | |

| کثافتدانۍ | |
|---|---|
| شنه کثافتداني په دغې ورځ تولیږي: | |
| توره د بیاکاروني کثافتدانی په دغې ورځ تولیږي: | |
| اسماني رنګه د بیاکاروني کثافتداني به دغې ورځ تولیږي: | |

# خپل نوټونه جوړ کړئ ...



NORTH
EAST
LINCOLNSHIRE
COUNCIL
www.nelincs.gov.uk